High Level Meeting on Cooperation for Child Rights in the Asia Pacific Region

unicef

# د 28 هېوادونو چارواکي په بجينګ کې د ماشومانو د حقونو د ستراتېژيکي خبري لپاره سره راټول شوي دي

**بجينګ، د 2010 د نوامبر 4مه -** ټولې اسيا او ارامې اسيا يا پسفيک د 28 هېوادونو جګپوړي چارواکي او وزيران نن د لوړې کچې په يوه غونده کې سره د اسيا او ارامې اسيا د ماشومانو د حقونو په هکله په بجينګ کې راټولېږي. دغه غنډه چې د نوامبر له 4 مې تر 6 مې ، پورې به روانه وي د ټول چين د ښځو سازمان، د چين د ماشومانو او ښځو ملي کمېټه چې د دولت د نظر لاندې کار کوي او د چين د خلکو جمهوريت د اقتصاد وزارت په کوربه توب او د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندق يا يونيسف په همکارئ جوړېږي. په دغې غونډه کې د چين د وزارتونو جګپوړي چارواکي او استازي او د يونيسف سيمه ييز استازی ګډون لري.

ګډونکونکي هېوادونه په ټوله نړۍ کې د يو مليارد ماشومان يا د نړۍ په سلو کې 53 ماشومانو استازيتوب کوي.

د ارامې اسيا ځيني هېوادونو پاموړ اقتصادي پرمختګ کړی او په تېرو لسيزو کې سلګونه ميليونه وګړي په ورځ کې د يوه ډالر عايدو د تر لاسه کولو په مرسته له بېوزلۍ څخه ژغورل شوي دي. خو په همدغه وخت کې اقتصادي او ټولنيزه نابرابرئ زياته شوې او د ميليونونو ماشومانو پر ژوند يې بده اغېزه کړې ده. دغي نابرابرئ ته د پام کولو لپاره د ټولې سيمې چارواکي د ماشومانو روغتيا، ښوونې - روزنې او د دوی د خونديتوب د حقونو د ساتنې په برخه کې په مهمو خبرو اترو بوخت دي.

د افغانستان د کار او ټولنيزو چارو وزارت مرستيال، واصل نور مهمند وايي: « افغانستان غواړي چې د ماشومانو د خونديتوب د شبکې يا سيپان ټول هېواد ته پراخه کړي او په دې توګه ماشومان له تېري، بدچلند او استثمار څخه وژغوري». د ځوانانو شبکه چې د ماشومانو د حقونو د خونديتوب لپاره کار کوي د يونيسف په مالي او تخنيکي مرستو جوړه شوې او اوس مهال په 28 ولايتونو کې فعاليت کوي.

د يونيسف اجرايوي مشر انتوني لاک وايي: «دغه مشورې د يو پيل څرګندويي دي چې کولای شي د دغې سيمې د ماشومانو د ښه راتلونکي له جوړولو سره مرسته وکړي». «دا زما هيله ده چې دغه غونډه نه يوازې په دغې سيمه کې د هېوادونو د نژدې او قوي همکارئ ته وده ورکړي بلکې اختلافونو د پاملرنې لپاره بايد هغه سياسي ژمنتيا هم پياوړې کړي چې د ماشومانو د حقونو د خونديتوب لپاره وي».

چارواکي خپلې خبرې په دريو موضوعاتو کې راټولوي: د برابرئ په پام کې نيولو سره د زريزې د پراختيايي موخو ته رسېدل؛ د ناورينونود ګواښونو د کمولو په مرسته د ماشومانو د ژوند ښه کول ، هغوی خوندي کول او اسانتياوې ورته برابرول.دغه درې موضوعات د ارامې اسيا په هېوادونو کې د مهمو او ګډو اندېښنو پر بنسټ غوره شوي دي.

د زريزې پراختيايي موخو ته د رسېدلو په نيت ، بېوزلو او ډېرو اغېزمنېدونکو ټولنو ته د لاسرسی پياوړې کولو لپاره نورې هڅې او هلې ځلې اړيني دي. له نابرابرې سره د مبارزې په برخه ، په ځانګړی توګه د عامه خدمتونو په وېشلو کې د مالوماتو او تجربو د شريکولو په مرسته هېوادونه کولای شي له دغه ستونزو سره مقابله وکړي او د زريزې پراختيايي موخو ته ځانونه ورسوي.

ماشومان په ارامه اسيا کې تر اوسه هم په بېلا بېلو هېوادونو کې په بېلا بېلو کچو د خونديتوب له جدی ننګونو سره مخامخ دي چې په دغو ننګونو کې جنسی انتخاب، ژر واده کول، تېری ، بد چلند او قاچاق راځي. دغو ستونزو ته پاملرنه او د هغوی مخنيوی د ماشوم د خونديتوب او هوساينې په برخه کې پراخ او اغېزناک سيستم ته اړتيا لري چې دا د يو هېواد لپاره اسانه دنده نه ده. دا د هېوادونو ترمنځ د تجربو شريکولو او همکارئ ته اړتيا لري.

د ناورینونو د کمولو په برخه کې په ستراتژيګانود همکارئ په مرسته په هغو کې ډېرې مهمې پایلې تر لاسه کېدای شي چې ماشوم پکې اغېزمن کيږي،لکه چې په پاکستان او چین کې سېلابونه موږ ته دا را په زړه کړه چې ارامه اسیا د طبيعي افاتو پر وړاندې ډېر اغېزمنېدونکې ده او په دې کې بيا ماشوم ته تر ټولو زيات زيان رسيږي.

دغه غونډه دا هم په پام کې نیسي چې هېوادونه څنګه کولای شي په اغېزناک ډول پخپل منځ کې د ماشومانو د ګټې لپاره کار وکړي او د همکارئ د پیاوړتیا لپاره ځینې فرصتونه برابر کړي.

***

**For more information, please contact:**

| | |
|---|---|
| **Mr. Dale Rutstein**<br>Communication Chief, UNICEF China<br>Office: +8610 65323131 ext. 1301<br>Cell: +8613910973801<br>Email: drutstein@unicef.org | **Ms. Liu Li**<br>Communication Specialist, UNICEF China<br>Office: +8610 65323131 ext. 1303<br>Cell: +861370106667<br>Email: liliu@unicef.org |
| **Ms. Li Yuetong**<br>International Department,<br>All-China Women's Federation<br>Office: +8610 65103308<br>Cell: 13810031711<br>Email: siqi1013@hotmail.com | **Madeline Eisner**<br>Regional Communication Advisor, UNICEF<br>East Asia and the Pacific<br>Beijing cell: +8615801302124<br>Bangkok cell: +66817014626<br>Email: meisner@unicef.org |
| **Sarah Crowe**<br>Regional Chief of Communication<br>UNICEF South Asia<br>Beijing cell: +8613520650334<br>Delhi cell: +919910532314<br>Email: scrowe@unicef.org | **Farida Ayari**<br>Chief of Communication<br>UNICEF Afghanistan<br>Cell:+93 798 50 71 10<br>E-mail:fayari@unicef.org |